لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون

# اساسنامه

جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی)

کابل

۱۳۳۰

ARIC

ACKU

بنیاد اندیشه

BOOK STORE
AFG. ( )

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00009195 8

پادشاه افغانستان

# پیرو دین متین اسلام

المتوکل علی الله

ما

**محمد ظاهر**

به فضل الهی پادشاه مملکت افغانستان

جمعیت هلال احمر افغانی برای دستگیری دردمندان و مستمندان وایفای وظائف نوع پروری، که یکی از سجایای عالیهٔ اسلامی و افغانیست بنا گردیده . ما این مؤسسهٔ عام‌المنفعه را از نظر استحسان دیده وبمنظور تقویه وپشتیبانی ازمطالب ومقررات آن ؛ موسسهٔ موصوفه را تحت حمایهٔ خود مان قرار میدهیم . وریاست عالیهٔ آن را به والاحضرت سردار احمد شاه خان فرزند ارشد خویش تفویض مینمائیم .

سردار موصوف موظف هستند که امور این وظیفهٔ مهمه را باعلاقه مندی اجرا ومقررات واساسنامهٔ آن‌را در مورد عموم منطبق سازند . همچنین باید دیگر مراکز خیریهٔ افغانی درپای تخت و ولایات با این مؤسسه علاقه گرفته اصول ومبانی آن را احترام نمایند .

PROPERTY OF ACKU 9/195

ACKU

خداوند متعال تمام کار کنان این مؤسسه ودیگر جمعیات و افراد یرا که باچنین تأ سیسات دلچسپی دا رند توفیق بخشد تامنظور و مقاصد عالیهٔ شان‌را برای دستگیری از ضعفا ومحتاجان ، مورد عمل گذا رند .

قصر دلکشا : بتاریخ ۱۵ میزان ۱۳۳۰

( محل امضاء ذات شاهانه )

ACKU

بنیاد اندیشه
تاسیس ۱۳۹۴

بسم الله الرحمن الرحیم

# دپښتنۍ سرې میاشتې (هلال احمر افغانی) د ټولنې اساسنامه

## لمړی فصل

### عمومی مقررات

لمړۍ ماده:- دعمومی او بین المللی تعاون او ټولو خیریه کارو د ټمر کز دپاره یوه ټولنه دپښتنۍ سرې میاشتې (هلال احمر افغانی) په نامه تشکیلیږی.

مادهٔ اول:- جهت تمرکز تمام امور خیریه و تعاون عمومی و بین المللی جمعیتی بنام افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) تشکیل میشود.

۲ ماده:- دا ټولنه داعلیحضرت (دافغانستان پادشاه) تر لوړ قیادت او حمایت لاندې خپل ملی، اجتماعی او بین المللی وظائف ایفاء کوی.

مادهٔ ۲:- این جمعیت تحت قیادت عالیه و حمایت اعلیحضرت (پادشاه افغانستان) وظائف اجتماعی ملی و بین المللی خود را ایفأ می نماید.

۳ ماده:- پښتنۍ سره میاشت (هلال احمر افغانی) د ۱۸٦٤ قرار داد او ټول بین المللی هغه قرار دادونه چه دافغانستان شاهی دولت د سرو میاشتو او څمری او سره لمر او سرو صلیبو په باره کښې قبول کړی وی مرعی کښی

مادهٔ ۳:- جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) قرار داد ۱۸٦٤ و تمام قرارداد های بین المللی را که راجع به صلیب های احمر و هلال های احمر و شیر و خورشید سرخ دولت شاهی افغانستان قبول نموده باشد مرعی میداند

ACKU

٤ ماده:- دپښتنی سری میاشتی (هلال احمر افغانی) تولنه دائمی ده .

٥ ماده:- دپښتنی سری میاشتی (هلال احمر افغانی) دتولنې عمومی مرکز کابل دی .

٦ ماده:- ددې تولنې ګرد اعضاء او مربوطه څانګی اوفرعی مؤسسی له دې اساسنامې اود عمومی مرکز له ټولو بندونو او مصوبه مقرراتو سره سم تګ کوی .

٧ ماده:- په افغانستان کښې بله کومه داسی تولنه چه دپښتنی سری میاشتی (هلال احمر افغانی) یا صلیب اوسری میاشتی یااحمری یاد سره لمر مقصد او نوم او علامې لرونکی یادهغوبه شان مفهومات لری تشکیلیدای نشی .

٨ ماده:- دپښتنی سری میاشتی (هلال احمر افغانی) تولنه اوڅانګی ئی حقوقی شخصیت لری، کولای شی چه دتولنې هر ډول منقول او غیر منقول مالونه په لاس راوړی .

ماده٤:- جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) دائمی است .

ماده٥:- مرکز عمومی جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) کابل است .

ماده٦:- تمام اعضاء وشعبات مربوطه و مؤسسات فرعی این جمعیت طبق این اساسنامه و تمام هدایات و مقررات مصوبه مرکز عمومی رفتار می نمایند .

ماده٧:- درافغانستان کدام جمعیت دیگری که دارای مقصد واسم وعلایم افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) و یا صلیب ؤهلال احمر ویا شیر وخورشید سرخ ویامفهومات مشابه آن باشد تشکیل شده نمیتواند .

ماده٨:- جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) وشعب آن دارای شخصیت حقوقی بوده، می تواند هر گونه اموال منقول و غیر منقول جمعیت را تصرف نماید .

ACKU

۹ ـ ماده: د پښتنی سری میاشتی (هلال احمر افغانی) د ټولنې دا عضاو خدمتونه په افتخا ری او مجانی ډول دی، مګر هغه کسان چه د ټولنې د اداري په هیئتواودائرو کښې کار کوی، د ټولنې دعمومی بود جې له منظوري سره سم، چه هر کال دمر کزی مجمع په تصویب اودعمومی مجمع په منظوری رسیږی حقوق او معاش اخلی.

۱۰ ـ ماده: د پښتنی سرې میاشتی (هلال احمر افغانی) ټولنه به داسې نښا نونه او مخصوص مدا لونه لری چه د استعمال او ور کړې صورت به ئی د ځانګړو مقرراتو په مطا بق وی.

۱۱ ماده: ـ د هلال احمر افغانی تعبیر په ملی پښتو ژبه (پښتنې سره میاشت) ده. چه په دننه هیواد کښې به همدغه پښتنی سره میاشت،) سره تعبیر کیږی.

۱۲ ماده: څرنګه چه ددې ټولنې له وظیفو څخه یوه برخه دار دو ګانو د ناروغا

مادهٔ ۹ :ـ خدمات اعضای جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) طور افتخاری و مجانی است ولی کسانیکه در دوائر و هیئت های ادارهٔ جمعیت کار می کنند، بر طبق منظوری بودجه عمومی جمعیت که هر سال بتصویب مجمع مرکزی و منظوری مجمع عمومی میرسد حقوق و معاش میگیرند.

مادهٔ ۱۰ :ـ جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) دارای نشانهای مخصوص ومدالهای میباشد که صورت اعطاء واستعمال آن مطابق مقررات جداگانه خواهد بود.

ماده ۱۱ :ـ تعبیر هلال احمر افغانی بزبان ملی افغانی (افغانی سره میاشت) است که در داخل مملکت بهمین نام (افغانی سره میاشت) تعبیر میشود.

ماده ۱۲ :ـ چون یك قسمت از وظائف این جمعیت تداوی بیماران

او تېپيانو تداوي ده. نو ځکه د ملکي او عسکري صحيه دائرې او د هېواد نور مربوطه مرکزونه او دائرې مکلفې دي چه د دې ټولنې د مقاصدو په پرمخ بيولو کښې لازمه مساعدتونه وکړي.

۱۳ ماده:- د پښتني سري مياشتي (هلال احمر افغاني) ټولنه له هغو هيئتو سره چه د ځمري يا سره لمر يا د سري مياشتي او سره صليب له خوا، يا د بين المللي اتحاد يو او کميتې له خوا لېږل کېږي لازمه همکاري کوي.

او په لازمه وختو کښې خپل نمايندګان هم همغو موسسو ته لېږلی شي.

۱٤ ماده:- ټولی وزارت خانې او دولتي دائرې او مامورين او بلديې او پوليس او ژاندارمې او صحيه مؤسسې چه د لښکر کشې او مصائب او آفاتو د ظهور په موقع کښې د پښتنې سري مياشتي (هلال احمر افغاني) د ټولنې له مساعي او تعاون څخه ګټور کېږي په مقابل کښې به په هره موقع کښې خپل کامل مساعدتونه او مرستې د ی ټولنې ته ورښاندی کړي.

و مجروحين اردوها است لهذا دوائر صحيه عسکري و ملکي و ديگر دوائر و مراکز مربوطه مملکت مکلف اند که در پيشرفت مقاصد اين جمعيت مساعدتهای لازمه نمايند:

مادهٔ ۱۳:- جمعيت افغانی سره مياشت (هلال احمر افغانی) با هيئت های که از طرف جمعيت‌های صليب احمر و يا هلال احمر يا شير و خورشيد سرخ يا کميته و اتحاديه های بين المللی فرستاده ميشود همکاريهای لازمه ميکند.

و در اوقات لازمه نماينده‌های خود را نيز بموسسات مذکور فرستاده ميتواند.

مادهٔ ۱٤:- تمام وزارت خانه ها و دوائر و مامورين دولتی و بلديه‌ها و پوليس و ژاندارمه و مؤسسات صحيه که در موقع قشون کشي و ظهور آفات و مصائب از مساعی و تعاون جمعيت افغانی سره مياشت (هلال احمر افغانی) مستفيد ميشوند متقابلاً در هر موقع مساعدت کامل خود را باين جمعيت تقديم خواهند کرد،

ACKU

## دوهم فصل

### د تولنې مقاصد او وظيفې

١٥-ماده: د پښتنې سرې مياشتې (هلال احمر افغانی) تولنه دجامعې دافرادو دخير په خدمتو او دآلامو د تخفيف او د عامې دصحت دښه والې او د محتاجانو او بې نوايانو د حمايې او د نورو خيريه او گټورو مقاصدو دپاره تشکيل شوې او حتى المقدور دتولنې دمالي قوت په اندازه په دې لاره کښې کوشش کوې چه د تولنې د مقصدو شرح په دوو برخوو ويشله کيږي :-

مادهٔ ١٥ :- جمعيت افغانی سره مياشت (هلال احمر افغانی) برای خدمات خيريه نسبت به افراد جامعه و تخفيف آلام و بهبود صحت عامه وحمايهٔ مستمندان وبی نوايان وديگر مقاصد خيريه ومفيده تشکيل شده و حتی المقدور به اندازهٔ قوت مالی جمعيت درين راه کوشش می کند که شرح مقاصد جمعيت بدو قسم منقسم ميشود:-

### لمړی برخه د صلح په حالت کښې

١٦ ماده:- دساريه امراضو لکه وباء ملاريا او تناسلي امراض او حماى لکه دار او نورو داسې مرضو دښکاره کيدو په وختو کښې دتولنې دمالی توان په اندازه صحې مرسته او معاونت کوی

مادهٔ ١٦:- در اوقات بروز امراض ساريه مانند وباء ملاريا وامراض تناسلي وحمای لکه دار و امثال آن بقدر توان مالی جمعيت امداد ومعاونت صحی مينمايد.

١٧-ماده: دغذائی محرومیتو له امراض

مادهٔ ١٧ :- درحين مبارزه با

ACKU

سره د مبارزې په وخت او د کورونو دجوړولو په باره کښې او د کېچنیانو د تلفاتو او د میندو د حمایت دپاره د تو لنې د مالي توان په اندازه صحي مرسته کوی .

۱۸ ماده:- له فقراؤ او خوارانو او ضررلیدونکو کسانو سره د قحط او سختو ژمیو په وخت کښې او د غیر مترقبه او ناڅاپي مصائبو (لکه زلزله، اور لگېدل او سېلاو او ددې په شان د نورو واقعاتو د وقوع په وخت کښې حتی المقدور مرسته او معاونت کوی .

۱۹ ماده:- له بې وزلو شاگردانو سره ددوی د تحصیل دادامې په غرض لازمه مرسته او له هغو مؤسسو سره چه د یتیم او بې وزلو کېچنیانو د تولو او سرپرستی او تعلیم او د شیدو خوړونکو او بېکسو او غریبو کېچنیانو د ساتنې په مقصد په هېواد کښې تاسیس شوی او تأسیسېږی د تولنې د مالي توان په اندازه مرسته او معاونت کوی .

امراض محرومیت های غذائی وساختمان منازل و تلفات اطفال وحمایت مادران بقدر توان مالی جمعیت امداد صحی می نماید .

ماده۱۸:- با فقراء ودرماندگان و آسیب دیدگان در اوقات قحط وزمستان های سخت و وقوع مصائب غیر مترقبه از قبیل زلزله و سیلاب و حریق وامثال آن حتی المقدور امداد ومعاونت مینماید .

ماده۱۹:- باشاگردان بی بضاعت بغرض ادامهٔ تحصیل شان امداد لازمه و با مؤسساتیکه بمقصد جمع آوری وسرپرستی و تعلیم اطفال یتیم وبی بضاعت ونگهداری اطفال شیرخوار و بی کس و فقیر در مملکت تاسیس شده و می شود بقدر توان مالی جمعیت کمك ومعاونت مینماید .

ACKU

۲۰ ماده:- لپاره ددې چه تولنه د صلح او جنګ په وخت کښې خپل وظائف اجرا کړی ضروریه سامان او مواد د تولنې په ګدامو او تحویلخانو کښې ذخیره کوی او ساتی ئی .

مادهٔ ۲۰:- برای اینکه جمعیت درزمان صلح وجنگ وظائف خو درا اجراء کند مواد وسامان ضروریه‌را در گدام ها وتحویل خانه‌های جمعیت تهیه‌و حفظ آن را مرا قبت میکنند

۲۱ ماده:- د تولنې له مالی توان او امکان سره سم د شفاخانو تا سیس او اداری او د پرستارانو او همشیره ګانو تربیې او روزنې ته اقدام کوی .

مادهٔ ۲۱- به تربیه پرستار همشیره ها و تاسیس واداره شفاخانه ها بقدر امکان و توان مالی جمعیت اقدام می نماید.

۲۲ ماده:- د پښتنې سرې میاشتې (هلال احمر افغانی) مرستې او معاونتونه به د تولنې د مالی توان په اندازه د باندنیو (خارجه) مصیبت رسید ونکو په مورد کښې هم د تطبیق وړ وی .

مادهٔ ۲۲- معاونت های جمعیت افغانی سره‌میاشت (هلال احمر افغانی) درمورد مصیبت‌زده گان خارجه نیز بقدر توان مالی جمعیت قابل تطبیق خواهد بود

## «دوهمه برخه د جګړې په حالت کښې»

۲۳ ماده:- د پښتنې سرې میاشتې (هلال احمر افغانی) تولنه به د جنګ په موقع کښې د خپل توان په اندازه د هیواد له عسکری صحیه مؤسساتو سره مرسته او همکاری وکړی.

مادهٔ ۲۳: جمعیت افغانی سره‌میاشت (هلال احمر افغانی) درموقع جنگ به مؤسسات صحیه عسکری مملکت بقدر توان معاونت وهمکاری خواهد کرد

بنیاد اندیشه

۲٤ ماده:- دعسکری او ملکی ناروغانو او ټپیانو دعلاج دپاره به ثابتی اوسیاری شفاخانې اوطبی او امدادی هیئتونه اونوری وسیلې تروسه پورې راغونډې کړی.

۲٥ ماده:- د بین المللی مقرراتو سره سم له خارجی ټپیانو او بندیانو سره دخپل توان په اندازه مرسته کوی او دپښتني اوددښمن د بندیانو او پناه غوښتونکو په مبادله اودهغوی مخابره له خپلو کورنیو سره اودپول اونورو ضروری شیانو په انتقال اونورو کښی لازمه کمکونه تروسه پوری اقدام کوی.

۲٦ ماده:- دجنګ د ګرته نژدی کسان او کچنیان له خطرناکو ځایو څخه د اسی مصئونو ځایو ته چه حکومت ئی لازم وګڼی وړی.

۲۷ ماده:- دټولنې عمومی مرکز کولای شی چه دجنګ لازمه ډګروته خپل ځانګړی او مخصوص

مادهٔ ۲٤:- برای علاج بیماران و مجروحین عسکری و ملکی شفاخانه های ثابت وسیار وهیئت های طبی وامدادی و دیگر وسائل بقدر امکان فراهم خواهد کرد.

مادهٔ ۲٥:- حسب مقررات بین المللی بمجروحین واسرای خارجی به اندازه توان خود مساعدت مینماید ودر مبادلهٔ اسراء وپناه گزینان افغانی ودشمن مخابره آنها باعائله های شان وانتقال پول و اشیای ضروریه و دیگر کمک های لازمه حتی المقدور اقدام می ورزد.

مادهٔ ۲٦:- اطفال واشخاص موجودهٔ نزدیك جبهه را از مناطق خطرناك بجاهای مصئونیکه حکومت لازم داند نقل میدهد.

مادهٔ ۲۷: مرکز عمومی جمعیت می تواند بجبهات لازمه جنګ نماینده های علیحده ومخصوص

نما یندګان ولیږی تر څو د جبهې دقوماندان دمشورې په اساس خپلو وظیفوته ادامه ور کړی .

بفرستند تا به اساس مشوره قوماندان جبهه به ادامهٔ وظائف بپردازند .

۲۸ ماده - لپاره ددې چه مربوطه مامورین اواشخاص اوخصوصی ټولنې او شفا خانې د پښتنې سرې میاشتې (هلال احمر افغانی) علامت د جګړې په ډګرو اونورو مقامو نو کښې استعمال کړای شي، بنا ئی دټولنې دمرکز اجازه و لری .

ماده۲۸ :- برای اینکه شفاخانه‌ها وجمعیت های خصوصی واشخاص ومامورین مربوطه علامت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) رادر جبهات حرب و دیگر مقامات استعمال کرده بتوانند باید اجازهٔ مرکز جمعیت راداشته باشند .

## دریم فصل

-۵-

### دټولنې حقوق اوامتیازات اوعلامې

۲۹ ماده:- د پښتنې سرې میاشتې (هلال احمر افغانی) ټولنه ټول هغه حقوق اوامتیازات لری کوم چه دبین المللی مقرراتو سره سم ئې صلیبونه اوسرې میاشتې او څمری اوسور لمر لری .

ماده۲۹ :-جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) دارای تمام حقوق وامتیازاتی است که موافق مقررات بین المللی صلیب‌ها وهلال‌های احمر وشیر وخورشید سرخ دارند .

۳۰ ماده : -د پښتنې سرې میاشتې

ماده۳۰ :-علامت افغانی سره

ACKU

(هلال احمر افغانی) علامت دسپین متن پرمخ عبارت له هغی سری میاشتی دی چه دسپین متن پرمخ په لاندنیو مواردو کښی استعمالیږی :-

الف:- دټولنې په مربوطه مهراو اوراقواو اسنادواو مراسلاتواو مالونو

ب:- دټولنې په ماڼیو او عماراتو اوشفاخانو اوهرډول مؤسساتو او گدامو اودیپو او نقلیه وسائطو .

ج:- دپښتنی سری میاشتی (هلال احمر افغانی) د منسوبینو په جامو اومټ تړنو .

تبصره :- دا علامه دټولنې دمنسوبینو په کین مټ تړله کیږی .

د:- داعلامه دورځی دبیرغ په شکل اودشپی دڅراغ په شکل وی .

۳۱ماده:- دپښتنی سری میاشتی (هلال احمر افغانی) علامت دټولنې په ټولو مربوطو اشخاصو او مؤسسو او مالونو

میاشت (هلال احمر افغانی) عبارت از هلال سرخ است بروی متن سفید که در موارد ذیل استعمال می شود .

الف :- به مهر واوراق واسناد ومراسلات واموال مربوطه جمعیت .

ب:- به ابنیه وعمارات وشفاخانه ها ومؤسسات مختلفه و گدامها ، دیپو ووسائط نقلیه جمعیت .

ج:- به البسه وبازوبند های منسوبین افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی).

تبصره:- علامهٔ مذکور به بازوی چپ منسوبین جمعیت بسته میشود.

د:- این علامت در روز به شکل بیرق وشب بهشکل چراغ میباشد.

ماده۳۱:- علامت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) به تمام اموال ومؤسسات واشخاص مربوطه جمعیت

ACKU

اوهغومؤسسو پوری اختصاص اری چه
تولنه ئی لازم وبولی، اوپر ته له دی
پاس مواردو دهغی استعمال ممنوع دی

۳۲ ماده:ـ لکه چه د تولو دولتو له خوا
د پښتنی سرې میاشتې (هلال احمر افغانی)
علامه په رسمیت پیژندلی شوې د سرو
میاشتو او صلیبو او څمری او سره امر
علامې هم په رسمیت پیژندلی شوی
او افغانی سره میاشت (هلال احمر
افغانی) د سرو صلیبو او سرو میاشتو
او څمری او سره لمر تول
حقوق اری .

۳۳ ماده:ـ د پښتنی سری میاشتی
(هلال احمر افغانی) علامه د بیطرفی
او مصئونیت علامه ده او د بین المللی
له مقرراتو سره سم تول مرکزونه
او مؤسسی چه دا علامت لری، له هر ډول
تعرض څخه مصئون دی .

۳۴ ماده:ـ د پښتنی سرې میاشتې

و مؤسساتیکه جمعیت لازم بداند
اختصاص دارد باستثنای موارد فوق
استعمال آن ممنوع است .

ماده ۳۲:ـ طوریکه از طرف تمام
دول علامهٔ افغانی سره میاشت (هلال
احمر افغانی) به رسمیت شناخته شده
علایم هلال های احمر و صلیب های
احمر و شیر و خورشید سرخ نیز به
رسمیت شناخته شده و افغانی سره میاشت
(هلال احمر افغانی) دارای همه حقوق
صلیب احمر و هلال احمر و شیر و خورشید
سرخ می باشد .

ماده ۳۳ :ـ علامت افغانی سره
میاشت (هلال احمر افغانی) علامت
بیطرفی و مصئونیت است و طبق مقررات
بین المللی تمام مراکز و مؤسساتیکه
دارای این علامت است از هر گونه
تعرض مصئون میباشد .

ماده ۳۴ :ـ مخابرات داخلی

ACKU
بنیاد اندیشه

(هلال احمر افغانی) د ننني
او دباندنی مخابرات په دننه او
دباندې ملکو کښی اوشیان او نغدی چه
داعانی په توګه ددې ټولنې دپاره له
یوځایه بل ځای ته لیږل کیږی له هر
دول پستی او تلګرافی او تیلفونی محصولو
اوبانکی کمیشن څخه معاف دی .

۳۵ ماده:- حکومت دسرې میاشتی
اوسره صلیب اوځمری اوسره لمر ټو
لنو اوبین المللی مؤسسو سره تل مرسته
اوهمکاری کوی. په تیره بیا په لاندی
موارد و کښی اسانتیاوې ورپیښوی،

۱:- دسری میاشتی او سره صلیب
اوځمری اوسره لمر دکار کوونکو
دمسافرت په موقع کښی په هغه وقت کښی
چه دوی خپلی وظیفی پای ته رسوی، او
هم ددې دول کار کوونکو دفوری ویزو
په خصوص کښی مخصوص آسانتیاوی
راغوندوی .

وخارجی افغانی سره میاشت
(هلال احمر افغانی) در داخل
وخارج واشیاء ونقودیکه اعانتا برای
این جمعیت از یك منطقه بمنطقه دیگر
فرستاده می شود از هر گونه محصول
پستی وتلیگرافی و تیلفونی و کمیشن
بانکی معاف است .

ماده ۳۵:- حکومت باانجمن های
ملی ومؤسسات بین المللی هلال احمر
وصلیب احمر وشیر وخورشید سرخ
همه وقته معاونت وهمکاری نموده
بالخاصه بمواد ذیل تسهیلات میرساند.

۱:- بموقع مسافرت کارکنان
هلال احمر وصلیب احمر شیر وخورشید
سرخ در حینیکه وظائف خودرا انجام
میدهند وهم درخصوص ویزه های
فوری این قسم کارکنان
تسهیلات خاص فراهم
می کند .

ACKU

۲: دسري مياشتي اوسره صليب او
ځمري اوسره لمر دليږلو او راليږلو دمکتوبونو په انتقال کښې آسانتياوي راولي ،

۳:- دسري مياشتي اوسره صليب او
ځمري اوسره لمر دطبي لوازماتو په حمل او نقل او نورو معاونتو کښې چه د محتاجانو اومستحقينو دپاره تاکلي شوي آسانتياوي پيښوي .

٤:- دسري مياشتي اوسره صليب او
ځمري اوسره لمر د کار کوونکو دفوري حمل او نقل په باره کښې چه له يوه هيواد څخه بل هيواد ته دفعاليت دپاره تاکلي شوي آسانتياوي راولي .

٥:- دسري مياشتي اوسره صليب او
ځمري اوسره لمر شيان او نغدي چه دمرستي اومعاونت لپاره حمل او نقل کيږي د گمرکي له محصول څخه معاف دي ،

۲ :- نسبت به انتقال مكاتيب ارسال و مرسول هلال احمر و صليب احمر وشيروخورشيد سرخ تسهيلات مي رساند .

۳ :- نسبت به حمل ونقل لوازمات طبي و ديگر معاونت هاي هلال احمر و صليب احمر وشيروخورشيد سرخ كه براي مستحقين و محتاجين مشخص شده تسهيلات مي رساند .

٤ :- نسبت به حمل و نقل فوري كاركنان هلال احمر وصليب احمر وشيرو خورشيد سرخ كه از يك مملكت بديگر مملكت براي فعاليت مشخص گرديده تسهيلات مي رساند .

٥ :- اشياء ونقود هلال احمر وصليب احمر وشيرو خورشيد سرخ كه جهت معاونت و امداد حمل ونقل مي شود از محصول گمركي معاف است .

ACKU

## څلورم فصل

### دټولنې اعضاء او دهغو حقوق اووظائف

۳٦ ماده :- هريوله پښتني اتباعو څخه چه اتلس کلن وي، دپښتني سره ی مياشتي (هلال احمر افغانی) دټولنې له اساسنامې سره سم د دې ټولنی عضو کېدای شي •

۳۷ ماده :- ددې ټولنی اعضاء په څلور ډوله دی :-

الف :- مؤسس اعضاء

ب :- افتخاری اعضاء

ج :- دائمی اعضاء

د :- عمومی اعضاء

۳۸ ماده :- مؤصس اعضاء عبارت له هغو پښتنو څخه دی چه د ټولنی په تأسس کښې ئی مادی او معنوی مرستې او کمکونه کړي او ددې ټولنې دمرام په پرمخ بيولو کښې ئی مخصوصه دلچسپی او ځليد ونکی کارنامې ښکاره کړي وي دمؤسس اعضاؤ

ماده ۳٦ :- هريکی از اتباع افغانی که دارای سن هجده باشد مطابق اساس نامهٔ جمعيت افغانی سره ميا شت (هلال احمر افغانی) عضو اين جمعيت شده ميتواند •

ماده ۳۷ :- اعضای اين جمعيت چهار نوع است :-

الف :- اعضای مؤسس •

ب :- اعضای افتخاری •

ج :- اعضای دائمی •

د :- اعضای عمومی

ماده ۳۸ :- اعضای مؤسس عبارت از افغانانی ميباشد که در تأسيس جمعيت امدادهای مادی و معنوی کرده و در پيش برد مرام اين جمعيت دلچسپی مخصوص و کارنامه های درخشانی نشان داده باشند

شمیر به پنځوس تنه وی ؛

۳۹ ماده:- د ټولنې په مؤسس عضویت کښې شاملیدل د اداری هیئت د پیشنهاد او مرکزی مجمع د مصوبې او د همایونی اعلیحضرت د منظوری له قراره کیږی ؛ او د دوی نوم به د ټولنې په دفتر کښې ثبت او د مؤسس اعضاؤ په نامه به د همایونی فرمان هم صادر شی .

۴۰ ماده:- هغه کسان چه لا اوس د دې ټولنې مؤسس اعضاء پېژندلی شوی ، د دوی نوم د ټولنې په دفتر کښې ثبت دی.

۴۱ ماده:- مؤسس اعضاء لږ تر لږه د کال (دوه سوه) افغانی د ټولنې په صندوق کښې اچوی او د ټولنې په مادی او معنوی مسائلو کښې تر وسی پورې کوښښ کوی.

۴۲ ماده:- څه وخت چه د ټولنې مؤسس اعضاء له ټاکلی شمیر څخه کم شی ، نو یو یا څو تنه پښتني تبعه چه دخپل افتخاری یا دائمی عضویت په موده کښې او یا له اعضاؤ

عدهٔ اعضای مؤسس پنجاه نفر خواهد بود.

ماده ۳۹:- شمولیت به عضویت مؤسس جمعیت قرار پیشنهاد هیئت اداری و مصوبهٔ مجمع مرکزی بمنظوری حضور اعلیحضرت همایونی صورت گرفته واسم شان بدفتر جمعیت ثبت و باسم اعضا مؤسس فرمان همایونی نیز صادر خواهد شد .

ماده ۴۰ :- کسانیکه فعلاً اعضای مؤسس این جمعیت شناخته شده اسم شان بدفتر جمعیت ثبت است .

ماده ۴۱ :- اعضای مؤسس لااقل سالانه (دوصد) افغانی به صندوق جمعیت می پردازد و در مسائل مادی و معنوی جمعیت حتی المقدور صرف مساعی مینمایند.

ماده ۴۲ :- وقتیکه اعضای مؤسس جمعیت از عدد معین کم شود یك یا چند نفر تبعه افغانی که در مدت عضویت افتخاری یا دائمی خود ویا از اشخاص

بنیاد اندیشه
تاسیس ۱۳۹۴

ځخه دباندې اشخاص چه ټولنې ته ئې
مهم خدمتونه کړي او ددوی وجود د ټولنې
دمقاصدو دپرمخ بیولو دپاره ګټور او مؤ
ثر وي دمرکزي مجمع د آراؤ په زیاتوالي
په مؤسس عضویت قبول شوي او د همایوني
اعلیحضرت په حضور معرفي کېږي .

۴۳ ماده :- هغه کسان چه مهمه هدیه
لږ تر لږه (لس زره) افغانۍ ټولنې ته
وروړاندې کړي، یاد ټولنې د مرام په
پرمخ بیولو کښې لوی خدمتونه وکړي
دمرکزي مجمع د آراؤ د زیاتوالي په
تصویب دافتخاري عضو په حیث قبول او د
همایوني اعلیحضرت په حضور معرفي او
ددوی په نامه شاهانه فرمان صادریږي
او که داهدیه یاخدمت ډیر مهم او د توجه
وړ وي نو هغه اشخاص په خپله په مقرره
تشریفاتو د همایوني اعلیحضرت په حضور
مشرفیږي .

۴۴ ماده :- دهیواد مؤسسات هم چه د

خارج اعضاء که در جمعیت خدمات مهم
کرده و وجود شان برای پیشبرد مقاصد
جمعیت مفید و مؤثر باشد به اکثریت
آرای مجمع مرکزی به عضویت
مؤسس پذیرفته شده بحضور اعلیحضرت
همایونی معرفی میشود .

ماده ۴۳ :- کسانیکه هدیه مهمی
اقلاً در حدود (ده هزار افغانی) به جمعیت
تقدیم کنند ویا خدمات بزرگی در
پیشبرد مرام جمعیت انجام دهند؛ به
تصویب اکثریت آرای مجمع مرکزی
بحیث عضو افتخاری قبول و به حضور
اعلیحضرت همایونی معرفی و فرمان
شاهانه بنام شان صادر میشود اگر
این هدیه یا خدمت مهمتر وقابل
توجه باشد خود اشخاص نیز با
تشریفات مقرره بحضور اعلیحضرت
همایونی مشرف میشود .

ماده ۴۴ :- مؤسسات مملکت که

ACKU

(٤٣) مادی د شرائطو لرونکی وی د شاهانه
فرمان له قراره د افتخاری عضو په حیث
قبول او په خپله د مؤسسی په نامه د نوازش
فرمان صادر یږی او د هغی مؤسسی ممثل
له مقرره تشریفاتو سره د همایونی اعلیحضرت
په حضور شرفیاب او معرفی کیږی .

٤٥ ماده :- دائمی اعضاء هغه کسان
دی چه یو ځلی یو زر افغانی یا د کال
(١٢٠) افغانی د ټولنې په صندوق
کښې واچوی .

ددې اعضاؤ نومونه د ټولنې په
دفتر کښې قید یږی .

٤٦ ماده :- عمومی اعضاء هغه کسان
دی چه د کال ٢٠ افغانی د ټولنې په
صندوق کښې واچوی - ددوی نومونه
د ټولنې په دفتر کښې قید یږی .

٤٧ ماده :- د ټولنې د عمومی او دائمی
اعضاؤ له جملې څخه هغه کسان چه
سلو تنو ته ترغیب ورکړی د ټولنې

وا جد شرائط ماده (٤٣) باشند نیز
قرار فرمان شاهانه بحیث عضو افتخاری
قبول و فرمان نوازش بنام خود مؤسسه
صادر می شود و ممثل آن مؤسسه
با تشریفات مقرره بحضور اعلیحضرت
همایونی شرفیاب و معرفی می گردد .

ماده ٤٥ :- اعضای دائمی کسانی
هستند که برای یکمرتبه اقلاً هزار
افغانی ویا سالانه (١٢٠ افغانی)
به صندوق جمعیت بپردازند،
نام این اعضا بدفتر جمعیت قید
می شود

ماده ٤٦ :- اعضای عمومی کسانی اند
که اقلاً سالانه بیست افغانی بصندوق
جمعیت بدهند نام شان در دفتر
جمعیت قید میشود .

ماده ٤٧ :- از جمله اعضای عمومی
ودائمی جمعیت کسانیکه صد نفر را
ترغیب داده برای قبولی عضو جمعیت

دعضویت قبولی ته ئی چمتو کړی ،
دادول اشخاص له عمومی عضویت نه دائمی عضویت ته او له دائمی نه دافتخاری په حیث د مرکزی مجمع د اراوو دزیاتوالی په تصویب ترقی کولای شی

اوددې ډول کسانو د عضویت حق د دائمی او افتخاری عضویت په موده کښې کټ مټ لکه د پخوانی عضویت حق دأسې دی .

۴۸ ماده :- دهر ډول عضویت صفت امری داستعفی په صورت . دوهم :- دعضویت ددوو کالو دپول نه ورکولو په سبب دریم :- دداسی کارونو او تکاب چه د سری میاشتی د مقصد او د ناموس دساتنې او داخلاقو منافی وی د مرکزی مجمع په تصویب زائلیږی .

۴۹ ماده :- دباندنی کسان د پښتنی سری میاشتی (هلال احمر افغانی) دټولنې په عضویت کښې شاملیدای شی ، اما

آماده سازد همچه اشخاص از عضویت عمومی بدائمی و از دائمی به حیث افتخاری حسب تصویب اکثریت آرائی مجمع مرکزی ترقی کرده میتوانند .

و حق العضویت این طور اشخاص در مدت عضویت دائمی و افتخاری مطابق حق العضویت سابقهٔ شان خواهد بود .

ماده ۴۸ :- صفت هر نوع عضویت اولاً بصورت استعفاء و ثانیاً به سبب عدم پرداخت پول دو ساله عضویت ثالثاً به ارتکاب اعمالیکه منافی مقصد هلال احمر وحفظ ناموس واخلاق باشد به تصویب مجمع مرکزی زائل میشود

ماده ۴۹ :- اشخاص خارجی به عضویت جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) شامل شده

ACKU

د اداری د هیئت په جمله کښې نه انتخابیږی .

۵۰ ماده:ـ هغو اجنبی کسانو ته به چه د ټاکلیو شرطونو لرونکی شوی او پښتنی سری میاشتی .(هلال احمر افغانی) ته فوق العاده خدمت و کوی د افتخاری عضویت عنوان به ور کړ شی .

۵۱ ماده :ـ هغه کسان چه پخوا د دی آساسنامی له خپریدو نه، د ټولنې عضو پیژندلی شوی، د مرکزی مجمع په تصویب د دوی د سوابقو په مطابق ددې ټولنې په عضویتو کښې شامل او د دوی پخوانی موقعیت ساتلی شوی او د خپلی پخوانۍ قبولی په مطابق د خپل عضویت حصه ور کوی .

۵۲ ماده:ـ هغه اعضا چه د دائمی استوگنې دپاره له یوه محل څخه بل محل ته نقل مکان کوی، د همغی څانگی اعضاء بلل کیږی، چه هلته هستوگنه غوره

می تواند اما به جملهٔ هیئت اداره انتخاب نمی‌شود .

ماده ۵۰ :ـ بذوات اجنبی درحالیکه واجد شرائط معینه گردیده به افغانی سره میاشت . (هلال احمر افغانی) خدمت فوق العاده نمایند عنوان عضویت افتخاری داده خواهد شد .

ماده ۵۱ :ـ کسانیکه قبل از نشر این اساسنامه عضو جمعیت شناخته شده به تصویب مجمع مرکزی مطابق سوابق شان به عضویت های این جمعیت شامل و موقعیت سابقه شان محفوظ بوده حق العضویت خود هارا مطابق قبولی سابقه می پردازد .

ماده ۵۲ :ـ اعضائیکه برای سکونت دائمی از یك محل بدیگر محل نقل مکان می نماید اعضای همان شعبه محسوب می شوند که

کوی او دعضو د پخوانی هستو گنځی ځانگه دده داوسنی هستو گنی ځانگی ته خبر ور کوی .

در آنجا سکونت اختیار میکنند وشعبه مسکن سابقه عضو به شعبهٔ مربوطه مسکن لاحقه اش خبر میدهد .

## پنځم فصل

### په مرکز کښی د تولنی تشکیلات

- ۵ -

الف :- عمومی مجمع :-

۵۳ ماده :- پښتنی سره میاشت (هلال احمر افغانی) یو عمومی مجمع لری چه ددې تولنی کارونه د همدغی مجمع په اختیار کښې دی .

عمومی مجمع عبارت ده :-

۱:- د تولنې له مؤسس اعضاؤ ځخه

۲:- له لس تنو انتخابی اعضاؤ ځخه چه ددوی نومونه دمرکزی مجمع لخوا په دیچی په صورت سره ټاکل کیږی .

۳:- حربیه وزیر ، د اخله وزیر ، دمالیې وزیر ، دپوهنې وزیر ، د اقتصاد وزیر ، او دصحیه وزیر ځخه او یو یو تن

الف :- مجمع عمومی :-

ماده ۵۳:- جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) دارای یك مجمع عمومی میباشد که امور این جمعیت به اختیار این مجمع است ؛

مجمع عمومی تشکیل میشود از :-

۱:- اعضای مؤسس جمعیت ؛

۲:- ده نفر اعضای افتخاری که نام های شان از طرف مجمع مرکزی بصورت قرعه تعیین میشود

۳:- وزیر حربیه ، وزیر داخله وزیر مالیه ، وزیر معارف ، وزیر اقتصاد ، وزیر صحیه ، یك یك نفر نماینده

نماینده‌دولایا تواوداعلی حکو متواه
مرکزی څانګو څخه (دهمغه محل
داعضاؤ په انتخاب.)

٥٤ ماده :- عمومی مجمع لږ تر لږه
په کال کښې یو کرت دحمل په میاشت
کښې د کابل په مرکز کښې جلسه
کوی اودلزوم په وخت کښې په فوق العاده
صورت دمؤسس اعضاؤ اود مرکزی
مجمع د اعضاؤ په شمول هم منعقده
کېدای شی .

٥٥ ماده :- دعمومی مجمع دانعقاد
نېټه دمرکزی مجمع له خوا تعین او
یوه میاشت پخوا په اخبارو اوراډیو
کښې اعلان کېږی .

او که په ټاکلی وخت داعضاؤ دوه
ثلثه حاضر نشی دجرګې جلسه لس ورځې
نوره معطله اوپه راډیو او اخبارو
کښې اعلان کېږی .

په دی دوهمه ټولنه کښې د اعضاؤ

از شعبات مرکزی ولایات
و حکومات اعلی ( به انتخاب
اعضای همان محل .)

مادهٔ ٥٤ :- مجمع عمومی اقلاً
در سال یکبار در برج حمل در
مرکز کابل جلسه میکنند
و عند اللزوم بصورت فوق العاده
به شمول اعضای مؤسس واعضاء
مجمع مرکزی نیز منعقد
شده میتواند .

ماده٥٥ :- تاریخ انعقاد مجمع عمومی
از طرف مجمع مرکزی تعیین
و یکماه پیش در جرائد و رادیو
اعلان میشود .

اگر بوقت معین دو ثلث اعضاء
حاضر نشوند انعقاد مجلس برای
ده روز دیگر ملتوی وبه جرائد
و رادیو اعلان میشود .

درین اجتماع دوم تعداد اعضاء

ACKU

شمیر هر څومره چه وي عمومي جرګه منعقده کیږي .

٥٦ ماده:- عمومي مجمع په خپله امري جلسه کښې یو تن چه په ټولو اعضاؤ کښې په عمر مشروي (د) رئیس په حیث قبلوي او یو تن منشي هم په خپل منځ کښې انتخا بوي .

دعمومي مجمع منشي دمجلس ټولې فیصلې په یوه کتاب کښې ثبتوي او دحاضرو اعضاؤ په لاس لیك ئې رسوي .

٥٧ ماده:- دعمومي مجمع فیصلې دآراؤ په زیاتوالي دي او جلسه ئې داجندې دموادو ترختم پورې دوام کوي

٥٨ ماده:- هغه پیشنهاد چه لږ تر لږه دعمومي مجمع (د ٢٠) تنو اعضاؤ په لاس لیك ورسیږي دمجمع په اجنده کښې نیول کیږ ی .

٥٩ ماده:- دعمومي مجمع لمړی جلسه دهمایوني اعلیحضرت دنماینده له خوا افتتاح کیږ ی

به هر اندازه که باشد مجلس عمومی منعقد میگردد .

ماده ٥٦:- مجمع عمومی در جلسه اولین خویش یك نفر را که مسنترین اعضا باشد به حیث رئیس قبول و یك نفر منشی نیز از بین خود انتخاب میکنند .

منشی مجمع عمومی تمام فیصله های مجلس را دریك کتاب ثبت کرده و به امضای اعضای حاضر میرسانند .

ماده ٥٧:- فیصله های مجمع عمومی به اکثریت آراء بوده و جلسات آن تا ختم مواد اجنده دوام میکنند.

ماده ٥٨:- پیشنهادیکه با مضای اقلاً (٢٠) نفر اعضای مجمع عمومی برسد دراجندهٔ مجمع گرفته میشود .

ماده ٥٩:- جلسه اولین مجمع عمومی ازطرف نماینده اعلیحضرت همایونی افتتاح میشود .

ACKU

۶۰ ماده:- عمومی مجمع په لاندی وظیفو رسیدگی کوی :-

۱:- دمرکزی مجمع اعضاء دخفی آراؤ په زیاتوالی انتخابول .

۲:- دضرورت په وخت کښی دحاضرو اعضاؤ د آراء د دوو ثلثو د موافقی په اساس د ټولنې آساسنامه تعدیلول او په موادوئی تجدید نظر کول .

۳:- د ټولنې محاسباتی راپوټونه او بیلانسونه او اداری کارونه او شته او ګټې او ټول عواید کتل .

۴:- د ټولنې دمربوطه کار و پیشنهادونه تدقیقول .

۵:- دبین المللی سره صلیب او سری میاشتی او خمری او شیر لمر د کنفرانسو پر مقرراتو غور کول او دلزوم په وخت کښی قبلول .

۶:- د ټولنې عمومی بودجه چه د اداری هیئت له خوا ترتیب او په مرکزی

ماده ۶۰:- مجمع عمومی بوظایف ذیل رسیدگی می کنند :-

۱:- اعضای مجمع مرکزی رابه اکثریت آراء خفی انتخاب نمودن .

۲:- باساس موافقه دو ثلث آرای اعضاء حاضره عند الضرورت اساسنامه جمعیت را تعدیل و به مواد آن تجدید نظر نمودن .

۳:- راپورهای محاسباتی و بلانس ها و امور اداری و دارائی و مصارف و کلیه عوائد جمعیت را ملاحظه کردن .

۴:- پیشنهادهای امور مربوطهٔ جمعیت را تدقیق کردن .

۵:- مقررات کنفرانسهای بین المللی صلیب احمر و هلال احمر و شیر وخورشید سرخ را غور و عندالزوم قبول نمودن .

۶:- بودجه عمومی جمعیت را که ازطرف هیئت اداری ترتیب وبه مجمع

ACKU
بنیاد اندیشه
تاسیس ۱۳۹۴

مجمع کښې تصویب شوې وي، منظور ول.

ب :- مرکزي مجمع :-

٦١: ماده:- دپښتني سرې میاشتي (هلال احمر افغاني) مرکزي مجمع عبارت له هغو اوو تنو اعضاؤ څخه ده چه دعمومي مجمع د خفي آراؤ په زیا توالي انتخابیږي.

٦٢ ماده :- مرکزي مجمع په لمړی جلسه کښې په خپل منځ کښې په پټه رای یو تن رئیس او یو تن معاون انتخابوي

٦٣ ماده:- دمرکزي مجمع اعضاء دیوه کال دپاره په عمومي مجمع کښې انتخابیږي.

دیخوانیو اعضاؤ بیا انتخابول هم جائز دي

٦٤ ماده:- مرکزي مجمع په میاشت کښې دوه کرته د کابل په مرکز کښې جلسه کوي.

او دلزوم په وخت کښې کولای شي چه په فوق العاده صورت هم جلسه وکوي.

مرکزی تصویب شده باشد منظور نمودن

ب :- مجمع مرکزی :-

ماده ٦١ :- مجمع مرکزی افغانی سره میاشت ( هلال احمر افغانی) عبارت است از هفت نفر اعضائیکه به اکثریت آراء خفی مجمع عمومی انتخاب میشوند.

ماده ٦٢ :- مجمع مرکزی به جلسه اولین از بین خود به رای خفی یکنفر رئیس و یکنفر معاون انتخاب میکنند.

ماده ٦٣ :- اعضای مجمع مرکزی برای مدت یکسال در مجمع عمومی انتخاب می شود.

انتخاب مجدد اعضای سابقه نیز جائز است

ماده ٦٤ :- مجمع مرکزی در یك ماه دوبار در مرکز کابل جلسه میکنند.

وعندالایجاب میتوانند که بصورت فوق العاده نیز انعقاد جلسه نمایند،

اصولنامه هلال احمر/ ١٠٠٠ / جلد / ب سید احمد ج / خیر محمد، فتح محمد ...

ACKU

٦٥ ماده :- دعمومي مجمع او مرکزی مجمع دعضویت ماموریتونه اودڅانګو مجامع فخری دی .

٦٦ ماده :- دمرکزی مجمع وظیفې په لاندې ډول دی :-

١: دټولنې دمرکزی اداری هیئتو او اطرافي څانګو وظیفې او صلاحیت تعینول

٢:- دټولنې عمومي بودجه تصویبول او دمنظوری په غرض ئې عمومي مجمع ته وړاندې کول .

٣:- دټولنې له مالي توان سره سم امدادی مؤسسې لکه شفاخانې او کورسونه اودپرستار ی ښوونځی تاسیسول .

٤:- دټولنې دمرکزی ادارو او اطرافي څانګو تشکیلات د مرکزی اداری هیئت په ذریعه ترتیب او منظوری ورکول .

٥:- دټولنې داطرافي څانګو او دمرکز د اداری هیئتو دریسانو او ماموړینو ټاکل .

ماده ٦٥:- ماموریت‌های عضویت مجمع عمومی و مرکزی و مجامع شعبات فخری است .

ماده ٦٦:- وظائف مجمع مرکزی قرار ذیل است :-

١:- وظائف وصلاحیت هیئتهای اداری مرکزی وشعبات اطرافي جمعیترا تعیین نمودن

٢:- بودجه عمومی جمعیت را تصویب وبغرض منظوری به مجمع عمومی تقدیم نمودن .

٣:- موسسه های امدادی از قبیل شفاخانه‌ها و کورس‌ها ومکاتب پرستاری بقدر توان مالی جمعیت تاسیس کردن .

٤:- تشکیلات اداری مرکزی وشعبات اطرافي جمعیت را توسط هیئت اداری مرکزی ترتیب و منظوری دادن .

٥:- رؤسا وماموړین هیئت های اداری مرکز وشعبات اطرافي جمعیت را تعیین نمودن .

ACKU

۶:-د ټولنې د مرکزی او اطرافی څانګو داخلی تعلیماتنامی ترتیبول او تصویبول.

۷:. د هغه صلاحیت په آساس چه له عمومی مجمع څخه ئې حاصلوی ضروری او فوق العاده مصارفات له بودجی نه خارج منظورول او د اجراء امرئی ورکول.

۸:. د اساسنامې ځینې مواد چه تعدیل ئې د عمومی مجمع له اختیاراتو څخه دی د عمومی مجمع تر انعقاده تفسیر کول.

۹:-د مهمو مسائلو په مورد کی چه د ټولنې د پاره ګټوری وی او یا د ټولنې له څانګو پیشنهادشی د مجمع د رأیو په زیاتوالی اساسی تصمیمات نیول.

۱۰:- عمومی مجمع په خپل ټاکلی وخت جرګی ته رابلل.

۱۱:-د ټولنې د محاسبات او مصارفاتو صورت او د منقول او غیر منقول شتو په استعمال نګرانی کول.

۶:-تعلیماتنامه های داخلی شعبات مرکز و اطراف جمعیت را ترتیب و تصویب نمودن.

۷:-باساس صلاحیتیکه از مجمع عمومی حاصل میکنند مصارفات عاجله و فوق العادهٔ خارج بود جه را منظور و امر اجراء دادن.

۸:- بعضی مواد اساسنامه را که تعدیل آن از اختیارات مجمع عمومی است تا انعقاد مجمع عمومی تفسیر نمودن.

۹:- در مورد مسائل مهمه که برای جمعیت مفید باشد و یا از شعب جمعیت پیشنهاد شود، به اکثریت آرای مجمع تصمیمات اساسی اتخاذ نمودن.

۱۰:- مجمع عمومی را بوقت معینهٔ آن به اجتماع دعوت نمودن.

۱۱:. صورت محاسبات و مصارفات واستعمال دارائی منقول وغیر منقول جمعیت را نگرانی کردن.

۱۲:- د ټولنې کالنی رپوټونه چه داداری هیئت لخوا ترتیبیږی ملاحظه او تصدیق کول .

۱۳:- هغه کسان چه ددی اساسنامی له مقرراتو سره سم د افتخاری عضویت د شرطونو صفت لرونکی وی د ټولنې افتخاری عضو بلل او منظوری ئی ورکول

۱٤:- ایستل د هغو کسانو چه ددې اساسنامی د (٤٨) مادې له قراره د ټولنې دعضویت له حقوقو څخه محرومیږی ، منظورول.

۱۵:- د ټولنې د مربوطه مقاولاتو دعقد او فسخ دصلاحیت اندازه دلزوم په وخت کښی داداری هیئت رئیس ته ور کول.

۱٦:- د ټولنې د ګردو مبایعاتو او مالی کارو په باره کښی اداری هیئت ته هدایت ور کول.

۱۷:- د ټولنې د لازمه کار ودپلټنې دپاره دلزوم په وخت کښی په خپل منځ

۱۲:- راپورهای سالانه جمعیت را که از طرف هیئت اداری ترتیب میشود ملاحظه و تصدیق کردن .

۱۳:- کسانی را که حسب مقررات این اساسنامه واجد شرائط صفت عضویت افتخاری باشند عضو افتخاری جمعیت قبول و منظوری دادن .

۱٤:- اخراج کسانی را که از حقوق عضویت جمعیت بقرار ماده (٤٨) این اساسنامه محروم میشوند منظور نمودن .

۱۵:- اندازهٔ صلاحیت عقد و فسخ مقاولات مربوط جمعیت را عند اللزوم به رئیس هیئت اداری دادن .

۱٦:- راجع به تمام مبایعات وامور مالی جمعیت به هیئت اداری هدایت دادن .

۱۷:- عندا للزوم از بین خود ویا خارج جمعیت یك هیئت تفتیش برای

ACKU

کنبی یاله تو لنې د با ندې د پلټنې بوهیئت تا کل .

۱۸ :ـ د توانې د عائدا تو د ډیرولو او د اعضاؤ د زیاتوالی او د څانګو د ارتوالی د پاره لازمه تدابیر نیول.

۱۹ :ـ د عمومی مجمع د امر ونواو تصویبونو اجراء تعقیبول .

۶۷ ماده:ـ د مرکزی مجمع روی دادونه ارفیصلی دیو منشی له خوا لیکل کیږی او د مجمع د اعضاؤ او رئیس په لاس لیك رسیږی او د منشی له خوا اداری هیئت ته سپارل کیږی د مجمع منشی به د مرکزی اداری هیئت رئیس وی او په جرګه کښی د رای حق نلری.

ج :ـ اداری هیئت :ـ

۶۸ ماده ـ اداری هیئت له یو تن رئیس او معاون او د لازمه څانګو او دائرو له مامورینو څخه تشکیلیږی چه د لزوم په وخت کښی د اداری ریاست له خوا تشکیل او له

تفتیش و بررسی امور لازمه جمعیت تعین نمودن.

۱۸ :ـ برای تکثیر عائدات وازدیاد اعضاء و توسعهٔ شعب جمعیت تدابیر لازمه اتخاذ نمودن.

۱۹ :ـ اجرای او امر و تصاویب مجمع عمومی را تعقیب کردن.

ماده ۶۷ :ـ روی داد و فیصله های مجمع مرکزی ذریعهٔ یکنفر منشی نوشته شده و به امضاء اعضاء و رئیس مجمع می رسد واز طرف منشی به هیئت اداری سپرده میشود .منشی مجمع رئیس هیئت اداری مرکزی خواهد بود و در جلسات حق رای ندارد

ج :ـ هیئت اداری :ـ

مادهٔ ۶۸ :ـ هیئت اداری تشکیل میشود از رئیس و معاون و مامورین دوائر وشعبات لازمه که عندالزوم از طرف ریاست اداری تشکیل واز مجمع مرکزی

مرکزی مجمع څخه منظوریږی دادارې هیئتو رئیسان دټولنی په ټولو مراسلاتو او مخابراتو کښی دلاس لیك صلاحیت لری او په حکومتی دائرو او محاکمو کښې او همدارازد دریمو اشخاصو په مقابل کښی له جمعیت نه نمایندگی کوی

٦۹ ماده. اداری هیئت دټولنی ګرد اداری او حسابی کارونه اوشته اداره کوی. او داعانی دټولو په کارو او دټولنی په نورو مربوطو کارو کښی لازمه تبلیغات او داعانو ټولولو ته اقدام کوی

۷۰ ماده . اداری هیئت او مربوطه څانګی مکلفی دی چه دمرکزی مجمع له هدایاتو او داخلی تعلیماتنا می سره سم چه دمرکزی مجمع له خوا ترتیب او منظوریږی وظیفه اجراء کړی.

۷۱ ماده ـ دټولنی دمرکزی اداری هیئتو او اطرافی څانګو تشکیلات ترتیبوی

منظور می‌شود رؤسای هیئت های اداری صلاحیت امضاء را درجمیع مراسلات ومخابرات جمعیت داشته و در دوائر حکومتی ومحاکم وهکذا در مقابل اشخاص ثالثه از جمعیت نمایندگی می کنند .

مادهٔ ٦۹ـ هیئت اداری تمام امور اداری وحسابی ودارائی جمعیت را اداره ودرامور فراهم آوری اعانه ها وغیره امور مربوطه جمعیت تبلیغات لازمه وبه جمع آوری اعانه ها اقدام می نماید .

مادهٔ ۷۰ـ هیئت اداری وشعبات مربوطه مکلف است مطابق هدایات مجمع مرکزی وتعلیماتنامه های داخلی که ازطرف مجمع مرکزی ترتیب و منظور میشود اجرای وظیفه نماید .

ماده ۷۱ـ تشکیلات هیئت های اداری مرکزی وشعبات اطرافی جمعیت

ACKU

اودمرکزی مجمع له منظوری وروسته
ئی خپل مرجع ته ابلاغوی اودمرکزی
مجمع د منظوری پراساس د توانی
دمرکزی تشکیلاتو او د اطرافی څانګو
په ارتوالی کښی د ضرورت او احتیا
له مخی کوښښ کوی.

۷۲ ماده- د تولنی د مرکزی او اطرافی
څانګو بودجه ترتیب او تنظیموی، د مرکزی
مجمع په تصویب ئی رسوی، د مرکزی
مجمع په ذریعه ئی د منظوری په غرض
عمومی مجمع ته وړاندی کوی،

۷۳ ماده - د تولنی د اطرافی څانګو
د حاصلاتو د یوی برخی د انتقال په باره
کښی د هغی د تحویلی مرجع له (۹۳) ماده
سره سم مربوطه څانګو ته ښوونه کوی.

۷٤ ماده- مرکزی مجمع جرګی ته
غواړی.

راترتیب و بعد از منظوری مجمع مرکزی
به مرجعش ابلاغ می کند و به اساس
منظوری مجمع مرکزی به توسعه
تشکیلات مرکزی وشعبات اطرافی
جمعیت حسب ضرورت و احتیاج اهتمام
می ورزد.

مادهٔ ۷۲- بودجه مرکز وشعبات
اطرافی جمعیت را ترتیب و تنظیم نموده
به تصویب مجمع مرکزی رسانیده توسط
مجمع مرکزی بغرض منظوری بمجمع
عمومی تقدیم می کند.

مادهٔ ۷۳- راجع به انتقال یك حصه
از حاصلات شعبات اطرافی جمعیت طبق
مادهٔ (۹۳) و مرجع تحویلی آن به شعبات
مربوطه هدایت میدهند.

مادهٔ ۷٤- مجمع مرکزی را به
اجتماع دعوت می کند.

ACKU

## په‌اطراف کښې

۷۵ماده- د ژوولنې ځانګې دافغانستان دټولو ولایاتو اواعلی حکومتو اواو یو حکومتو په مرکزو کښې تاسیس کیدای شی .

۷٦ ماده. په هغو ځایو کښې به چه دمالي اوداعضاؤد شمیر له نقطه نظره مساعد ولیدل شي ، د مرکزي مجمع په‌منظوری د ژوانې ځانګې به تاسیس شی .

۷۷ماده - د ژولنې اطرافي ځانګې دلاندنیو تشکیلاتو په ذریعه اداره کیږی .

الف : دځانګې مرکزی مجمع :-

۷۸ماده- د ځانګې د مجمع اعضاء دولایاتواو اعلی حکومتواولویو حکومتو په مرکزو کښې په‌لاندې ډول دي.

۱- دولایتواواعلی حکومتو پمرکزو کښې دمعارف رئیسان اومدیران اوپه اویو حکومتو کښې دمعارف نمایندګان.

مادهٔ ۷۵-شعب جمعیت درمراکز تمام ولایات و حکومات اعلی و کلان افغانستان تاسیس شده می تواند .

مادهٔ ۷٦- درمناطقیکه از نقطهٔ نظر مالی وعدهٔ اعضاء مساعد دیده شود بمنظوری مجمع مرکزی شعب جمعیت تاسیس خواهدشد .

مادهٔ۷۷- شعبات اطرافی جمعیت ذریعهٔ تشکیلات ذیل اداره می شود .

الف : مجمع مرکزی شعبه :

مادهٔ ۷۸- اعضای مجمع شعبه درمراکز ولایات وحکومات اعلی و کلان مرکب است از :

۱-درمراکز ولایات وحکومات اعلی رؤسا ومدیر های معارف در حکومات کلان نماینده های معارف .

٢ـ صحیه رئیس یامدیر یادصحیه وزارت نماینده .

٣ـ دښاروالی رئیس یادښاروالی د کارومسئول مامور .

٤ـ یو تن دمشورې دمجلس له وکیلانو .

٥ـ له یوه تن ځخه زیات تر پنځو سوو تنو د ټولنې اعضاء یو تن نماینده اوپورته لهدې شمیر ځخه لهه رو پنځه سوه تنو د ټولنې اعضاؤ ځخه یوتن نماینده داعضاؤ په انتخاب د ښانګی دمجمع دعضویت لهپاره ټاکل کیږی .

٧٩ماده:ـ دښانګی دمجمع له اعضاؤ ځخه یوتن دخفی آراؤ په زیاتوالی درئیس په حیث انتخابیږی .

٨٠ماده:ـ د ټولنې د اطرافی ښانګو دمجمع وظیفی :ـ

١:ـ د ټولنې دعمومی عائداتو اومالو ساتنه اومراقبت او اعانه داداری هیئت په ذریعه راټول .

٢ـ رئیس یامدیر صحیه ویانماینده وزارت صحیه .

٣:ـ رئیس بلدیه ویامامور مسئول امور بلدیه .

٤ـ یکنفر ازوکلای مجالس مشوره .

٥:ـ متجاوز ازیك تا پنجصد نفر اعضای جمعیت یکنفر نماینده وبالاتر از ین عدد از هر پنج صد نفر اعضا یك نفر نماینده بهانتخاب اعضاء برای عضویت مجمع شعبه تعین می شود .

ماده ٧٩ـ از اعضای مجمع شعبه یك نفر بهاکثریت آرای خفی بحیث رئیس انتخاب می شود .

ماده٨٠: وظائف مجمع شعب اطرافی جمعیت :ـ

١:ـ اعانه هاوحفظ ومراقبۀ عائدات عمومی واموال جمعیت راذریعه هیئت اداری فراهم آوردن .

۲:- دبود جی له منظوری سره سم دتولنې دلګښت داجرا نګرانی کول.

۳- د تولنې دا عضاؤ دفهرست اودعائداتو اولګښت درا پورونو اطلاع مرکزته ورکول.

٤- ترخپل لاس لاندی تشکیلاتو دادار ی نګرانی کول.

٥:- دڅانګی دتولو اداری کارو اودڅانګی دمربوطه پیرودلو اوپلورلو نګرانی کول.

٦:- دتولنې داعضاؤ د پیدا کولو اوزیاتولو اودعائداتو دډیرولو دپاره لازمه تدابیر نیول.

۷:- دڅانګو د اداری مامورینو دتقرر په باره کښی مرکزته لازمه پیشنهادونه کول.

۸:- دڅانګی دبودجی دترتیب او منظوری په نسبت لازمه نظریات اوپیشنهادونه مرکزته ورکول.

۲:- اجرای مصارف جمعیت را مطابق منظوری بودجه نگرانی نمودن.

۳:- راپورهای عائدات ومصارف و فهرست های اعضاء جمعیت را بمرکز اطلاع کردن.

٤:- ادارهٔ تشکیلات ماتحت خود را نگرانی کردن.

٥:- تمام امور اداری شعبه وخرید و فروش مربوطه شعبه را نگرانی نمودن.

٦:- برای تدارک و ازدیاد اعضاء و تکثیر عایدات جمعیت تدابیر لازمه اتخاذ نمودن.

۷:- راجع به تقرر مامورین اداری شعب بمرکز پیشنهاد لازمه نمودن.

۸:- نسبت به ترتیب و منظوری بودجه شعبه بمرکز نظریات وپیشنهادات لازمه تقدیم نمودن.

ACKU

۹:- هغه کسان چه دافتخاری عضویت مستحق پیژندل شوی ، سره له هغو کسانو چه ددوی خدمتونه د تقدیر مورد گرځیدلی وی له متعلقه سندو سره سم مرکز ته معرفی کول .

۱۰:- هغه عضو چه د نمایندهٔ په حیث په عمومی مجمع کښی اشتراك کوی ، مرکز ته معرفی کول .

۸۱ ماده- د ولایاتو او اعلی حکومتو د مرکزو د څانگو مجامع ، په اوو حکومتو او ولایاتو او اعلی حکومتو په لازمه ځایو کښی د تولنی د څانگو په تشکیل کښی کوښش کوی .

۸۲ ماده - د څانگو مجامع لبز تر لبزه په میاشت کښی دوه ځلی اجتماع کوی مگر د لزوم په وخت کښی په فوق العاده دول په یوه میاشت کښی له دوه ځلی څخه زیاته جرگه هم کولای شی د څانگو د مجامع تصویبونه د رایو د زیاتوالی په اساس کیږی .

۹:- اشخاصی را که مستحق عضویت افتخاری دانسته شده با کسانیکه خدمات ایشان مورد تقدیر واقع گردیده باشد مطابق اسناد متعلقه به مرکز معرفی نمودن .

۱۰:- عضوی را که بحیث نماینده بمجمع عمومی اشتراك می کند بمرکز معرفی نمودن .

ماده ۸۱:- مجامع شعبات مراکز ولایات وحکومات اعلی به تشکیل شعبات جمعیت بحکومات کلان و مناطق لازمهٔ مربوطه ولایت وحکومات اعلی صرف مساعی می کند .

ماده ۸۲:- مجامع شعبات اقلاً ماهانه دو مرتبه اجتماع میکنند ولی درصورت لزوم زیاده از دو مرتبه هم دریك ماه طور فوق العاده اجتماع می توانند تصاویب مجامع شعبات باساس اکثریت آراء بعمل می آید .

۸۳ ماده:- که دخانګو د مجامع جرګه د مجامع د اعضاؤ د نه وجود په نسبت ونه تړل شي، نود مجمع جرګه د دوی دقانوني کفیلانو دشمول په آساس هم جائز ده •

۸٤ ماده:- هغه خانګي چه د مالي مساعدت أو د اعضاؤ دشمېر له حیثه په یو ځای کښې تاسیس کېږي، د هغو خانګو د مجمع وظیفې دهغو د مربوطه ولایت یا حکومت دخانګي دمجمع په غاړه دي •

ب:- دخانګي اداري هیئت :-

۸۵ ماده:- دخانګو اداري هیئت عبارت دخانګو له هغو مامورینو څخه دي چه تشکیل ئې نظر د خانګي اهمیت ته دمرکزي اداري هیئت له خوا ترتیب اودمرکزي مجمع له خوا تصویب اومنظور یږي •

۸٦ ماده :- دخانګو د اداري هیئتو وظیفې په لاندې ډول دي :-

ماده ۸۳:- هرگاه انعقاد مجامع شعبات نسبت به عدم وجود اعضای مجامع صورت گرفته نتواند اجتماع مجمع به اساس شمول کفیل های قانونی ایشان نیز جائز است •

ماده ۸٤:- شعباتیکه از حیث مساعدت مالی وتعداد اعضاء در یک موضع تاسیس میشود، وظائف مجمع آن شعبات به عهدهٔ مجمع شعبه حکومت ویا ولایت مربوطهٔ آن میباشد.

ب:- هیئت اداری شعبه :-

ماده ۸۵:- هیئت اداری شعبات عبارت از مامورین شعباتی است که تشکیل آن نظر به اهمیت شعبه از طرف هیئت اداری مرکزی ترتیب و از طرف مجمع مرکزی تصویب و منظور میشود.

۸٦ ماده ـ وظائف هیئت های اداری شعبات قرار ذیل است:-

ACKU

۱:- دځانگې دمنقولواوغیر منقول مالو اداره دټولنې د اساسنامې داحکامو په آساس اودمرکزی مجمع په تصویب،

۲:- دځانگو دعائداتو ټولول او د بودجوی لگښتواجراء د موضوعه مقرراتو په مطابق،

۳:- دجرگې دپاره دځانگې مجمع راغوښتل،

٤:- دټولنې د اداري اوحسابي كارواوټولو معاملاتو اجراء دټولنې دآساسنامې په مطابق او د مرکزی مجمع اودځانگې دمجمع په تصویب،

۵:- دولایاتو او اعلی حکومتو دمربوطه ځانگو صافی حاصلات د(۹۳) مادې په مطابق مرکز یا هغه مرجع ته چه لازم وليدل شي دانتقال امر ورکول او تحويلول،

۸۷ ماده:- پهداسی حال کښې چه دځانگ داعضاء اوشتو اوهیئتو وضعیت دیوی

۱:- ادارهٔ اموال منقول وغیر منقول شعبه به اساس احکام اساسنامهٔ جمعیت وتصویب مجمع مرکزی،

۲:- جمع آوری عایدات شعبه واجرای مصارف بودجه وی مطابق مقررات موضوعه،

۳:- دعوت مجمع شعبه برای اجتماع،

٤:- اجرای بالعموم معاملات وامور اداری حسابی جمعیت مطابق اساسنامه جمعیت و تصویب مجمع مرکزی ومجمع شعبه،

۵:- حاصلات صافی شعبات مربوطه ولایات وحکومات اعلی راباحاصلات صافی مراکز ولایات وحکومات اعلی طبق ماده(۹۳) بمرکزویامرجعیکه لازم دیده شود امر انتقال وتحویلی دادن،

ماده۸۷: درصورتیکه وضعیت اعضاءو دارائی وهیئت های شعبه بحیث یك شعبه فعالیت

ACKU

فعالیت کونکی څانګی په حیث کافی او مساعد نه وی، د مرکزی مجمع د فیصلې په اساس دا ډول څانګه مسدوده کیدای شی. هغه ځایونه او اعضاء چه د مسدودې شوی څانګې په ځای کښې واقع وی، په هغه نږدې ځای پورې چه مرکزی مجمع ئی لازم وګڼي مربوطیږي د مسدودې شوی څانګې ټول پولونه، مال او شیان د عمومی مرکز تر اداری لاندی راځی.

کننده کافی و مساعد نباشد به اساس فیصله مجمع مرکزی آنچنان شعبه مسدود شده میتواند مواضع و اعضائیکه در منطقهٔ شعبهٔ مسدود شده واقع میباشد به منطقهٔ نزدیکتر یکه مجمع مرکزی لازم داند مربوط میشود، تمام پول، مال و اشیاء شعبه مسدود شده زیر اداره مرکز عمومی قرار میگیرد.

## شپږم فصل

-۵-

### د ټولنې عائداتي منابع او مالي معاملات

۸۸ ـ ماده: ـ د ټولنې عائداتي منابع په لاندې ډول دی:

۱: ـ هغه پولونه چه اعضا ئی د عضویت د حق په توګه ټولنې ته ورکوی.

۲: ـ د ټولنې مربوطه اوقاف، عام له دې نه که منقول وی که غیر منقول او د هغو عائدات.

۳: هغه معاونتونه چه د حکومت له

ماده ۸۸: منابع عائداتی جمعیت ازین قرار است:ـ

۱:ـ پولی را که اعضا بحیث حق عضویت به جمعیت میپردازند.

۲:ـ اوقاف مربوطه به جمعیت اعم از منقول وغیر منقول و عائدات آنها.

۳ـ معاونت های که از بودجه

بو دجی او نورو موسسو
او دښاروالی له اوقافو کېږی،

۴:ـ دملی بانک دخیریی موسسی معاونت،

۵:ـ د ټولنی د غیر منقول مالو عائدات او د پانګی ګټه.

۶ـ دهغو مالیو د امتیازاتو عائدات چه د حکومت له خوا ټولنی ته ورکړی شوی وی.

۷:ـ دهغو ننداریو، ننداریتون سینما، ورزشی نمایشاتو، ښاری سرویسونو او د هغو جریدو ګټی چه د تعطیل په ورځو کښی نشر یږی.

۸:ـ د هیواد په پوستی مخابراتو کښی دېښتنی سره میاشتی (هلال احمر افغانی) د مخصوصو پوستی ټکټو استعمال او نصب.

۹:ـ نغدی او جنسی ډول ډول اعانی او هدیی.

۱۰:ـ د ټولنی د منقول او غیر منقول اموالو د خرڅلاو قیمت.

حکومت، اوقاف بلدیه ها وسائر مؤسسات بعمل می آید.

۴:ـ معاونت موسسهٔ خیریه بانک ملی،

۵:ـ عائدات اموال غیر منقول ومفاد سرمایه جمعیت.

۶:ـ عایدات امتیازات مالیاتیکه از طرف حکومت به جمعیت داده شده باشد.

۷:ـ از در آمدن های پسو هنی تنداری ها، تنداریتون، سینما ها، نمایشات ورزشی سرویس های شهری، جرایدیکه درروزهای تعطیل نشر میشود.

۸:ـ نصب واستعمال تکت پستی مخصوص (هلال احمر افغانی) در مخابرات پستی مملکت.

۹:ـ اعانه ها وهدیه های مختلف نقدی وجنسی.

۱۰:ـ قیمت فروش اموال منقول وغیر منقول جمعیت؛

۱۱:ـ د تعاونی هغو صندوقو عائدات
چه په مسجد واو متبرکه ځایو، شفاخانو
ښوونځیو، او نورو ځایو کښې ایښودل
کیږی، سره له هغو اعانو چه د تعاونی
په سیارو صندوقو کښې ټولیږی .

۱۲:ـ هغه عائدات چه د حکومت
او د بلدیو له خوا د قوانینو په استناد
ټولنې ته تخصیص کیږی .

۱۳:ـ د مشروطو بخښنو عائدات .

۱۴:ـ د سری میاشتی د مخصوص ورځی
گټی .

ماده ۸۹:ـ د پښتنی سری میاشتی
(هلال احمر افغانی) د ټولنې مالی کال
تقویمی کال دی د ټولنې بودجه چه په
دې دوره کښې د ټولنې د عائداتو
او مصارفاتو مشعره ده، د اداری هیئت له
خوا ترتیب او په مرکزی مجمع تصویب
او د عمومی مجمع په منظوری رسیږی،
د مرکزی مجمع تر نگرانی لاندې

۱۱:ـ عایدات صندوق های تعاونی
که در مساجد واماکن متبرکه، شفاخانه
ها مکاتب و مواضع سائره نصب می گردد،
با اعانه هائیکه در صندوق های تعاونی
سیار جمع می شود .

۱۲:ـ عائداتی که از طرف حکومت
و بلدیه ها باستناد قوانین به جمعیت
تخصیص داده میشود .

۱۳:ـ عایدات هبه های مشروط .

۱۴:ـ در آمد روز مخصوص هلال احمر .

ماده ۸۹:ـ سال مالی جمعیت افغانی
سره میاشت (هلال احمر افغانی) سال
تقویمی میباشد بودجه جمعیت که
مشعر عایدات و مصارفات جمعیت
در این دوره میباشد از طرف هیئت
اداری ترتیب و به مجمع مرکزی
تصویب و به منظوری مجمع
عمومی میرسد تحت نگرانی مجمع
مرکزی از طرف هیئت اداری

ACKU
بنیاد اندیشه
تاسیس ۱۳۹۲

د اداري هیئت له خوا عملي کیږي

تبصره :- هغه کسان چه د تقویمي کال له وروستنیو دري میاشتو څخه پخوا د ښتني سري میاشتي (هلال احمر افغاني) په عضویت شاملیږي، د هغه کال د عضویت حق ورکوي او د کال د وروستنیو دري میاشتو قبولي د را تلونکي کال عضو پیژندل کیږي د نوي کال د عضویت د حق متضمن دی.

۹۰ ماده :- اداري هیئت مکلف دی چه د ټولني د خالصو عائداتو یوه اندازه د مرکزي مجمع د تصویب په اساس د احتیاط د پول په نامه تفریق کړي او دا پولونه بي له فوق العاده حالاتو په نورو مواردو کښي استعمالیداي نشي او د ټولني د بودجي د نه موازني په حال کښي د عمومي مجمع د منظوري په اساس د ټولني د بودجي کسر د احتیاط د پولونه څخه پوره کیږي .

در ساحه عمل گذاشته میشود .

تبصره :- کسانیکه قبل از سه ماه آخر سال تقویمی به عضویت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) شامل میشوند حق العضویت همان سال را تأدیه می نمایند و قبولی سه ماه آخر سال عضو سال آینده شناخته شده حق العضویت سال نو را متضمن است .

ماده ۹۰ :- هیئت اداری مکلف است که یکمقدار از عایدات خالص جمعیت را باساس تصویب مجمع مرکزی بنام پول احتیاط تفریق نماید، و این پول بدون از حالات فوق العاده در دیگر موارد استعمال شده نمیتواند و در حال عدم موازنه بودجه جمعیت باساس منظوری مجمع عمومی کسر بودجه جمعیت از پول احتیاط تکمیل میشود .

ACKU

۹۱ ماده:- داحتیاطله پول څخه داستفادې
په غرض، داحتیاطي پولونو دڅلرمې برخې په
اندازه د بانک سهمونه اخستل کیدای شي.

۹۲ ماده:- دمرکزي مجمع د تصویب
په اساس کیدلای شي چه داحتیاطي پولو
نو یوه برخه دخزینې دقرضي داسنادو
یادغو اسنادو دپیرودلو د پاره چه
دخزینې په ضمانت استخراج شوي وي،
استعمال کړی.

۹۳ ماده:- اطرافي څانګې دخپلو ټولو
عائداتو په سلو کښې څلويښت مرکزته
یادغې مرجع ته چه مرکزئې لازم وبولي
لیږي. او یا ئې په سلو کښې شپېته ئې
دموضوعه مقرراتو په اساس د خپلو
احتیاجاتو او دهغو معاونتو دپاره چه
دهغوله خوا به وشي، په خپل مربوطه
حساب حفاظه کوي.

۹٤ ماده:- که دیوې څانګې په مربوطه
محل کښې یوه غیر مترقبه پېښه وشي چه

ماده ۹۱:- بغرض استفاده از پول
احتیاط بها ندازۀ ربع پول احتیاطی
اسهام بانک خریده شده میتواند.

ماده ۹۲:- به اساس تصویب مجمع
مرکزی میتوان یک قسمت پول احتیاطی
را برای خریداری اسناد قرضه
خزینه ویا اسناد دیگه به ضمانت
خزینه استخراج شده باشد،
استعمال کرد،

ماده ۹۳:- شعبات اطرافی فیصد
چهل تمام عایدات خود رابه مرکز
ویامرجعیکه مرکز لازم داند ارسال
ومتباقی فیصد شصت آنرا به اساس
مقررات موضوعه برای احتیاجات
خودو معاونت های که از طرف
آنها بعمل آورده خواهد شد بحساب
مربوطۀ خویش حفاظه میکند.

ماده ۹٤:- هرگاه در محل مربوطۀ
یک شعبه واقعۀ غیر مترقبه حادث

دابتدائی او فوری مرستی ورویاود مرکز استیذان تهوخت مساعد نه وی، نودځانګی مجمع کولای شی چه په خپل مسئولیت، په اندازه دیوزر افغانی دمخصوصی تعلیماتنا میله قراره مصرف کړی،

۹۵ماده:-په داسی صورت کښی چه دځانګو بودجه په کال کښی تولهمصرف نشی، نوپاتی ئی د کال په آخر کښی مرکز ته لیږله کیږی.

۹۶ماده:-ځانګی په هر ودرې میاشتو کښی دخپلو حساباتو دلنډون جدول، سره دعمومی مرکزی برخی دعائداتو په سلو کښی لهڅلویښت نه ترتیب او عمومی مرکز ته ئی لیږی.

۹۷ماده:-ځانګی مجبورې دی چه د هر کال په پای کښی یوداسی جدول چه د تولنې دمالی کال دبو کلنی قطعی حساباتو اوهغوپیسوانو چه دیانګو دځانګو په صندوقو کښی

شود که مستلزم معاونت آنی وابتدائی بوده به استیذان مرکز وقت مساعد نباشد مجمع شعبه می‌تواندبه مسئولیت خویش تا اندازهٔ (یکهزار افغانی) مطابق تعلیماتنامهٔ مخصوص مصرف نماید.

ماده۹۵:-درصورتیکه بودجه شعبات درظرف سال کاملاً بمصرف نرسد متباقی آن در آخر سال بمرکز فرستاده میشود.

ماده۹۶:- شعبات در هر سه ماه یک دفعه جدول خلاصه حسابات را باحصهٔ مرکزی عمومی از چهل فیصد عایدات ترتیب و به مرکز عمومی ارسال میدارد.

ماده۹۷:-شعبات مجبور هستند در ختم هر سال یک جدول که مشعر حسابات قطعی یکساله سال مالی جمعیت وپولهای که در صنادیق شعبات بانکها و جمیع

اوپه ټولو منقول اوغیر منقول مالو مشعروی ترتیب کړی اوژر تر ژره ئی عمومی مرکز ته ولیږی.

۹۸ ماده:- ځانګړی ځپل ورځنی عائدات دهفتی په وروستنی ورځ ځپل مرجع ته تحویلوی.

۹۹ماده:- څرنګه چه دپښتنی سری میاشتی (هلال احمر افغانی) ټولنه دهمایونی اعلیحضرت ترلوړ قیادت اوحمایه لاندې ده، نو مجبوره ده چه دهر کال په پای کښې ځپل ټول کلنی کارونه اواجراآت دهمایونی اعلیحضرت په حضور عرض کړی.

۱۰۰ماده:- ددې اساسنامی دموادو تغیر او تعدیل د مرکزی مجمع دپیشنهاد اودعمومی مجمع دمنظوری په اساس کیږی.

۱۰۱ماده:- ددی اساسنامی په اجراء اوتطبیق دپښتنی سری میاشتی (هلال احمرافغانی) مرکزی مجمع ماموره ومکلفه ده.

اموال منقول وغیر منقول باشد ترتیب داده بفوریت بمرکز عمومی ارسال دارند.

ماده۹۸:- شعبات عایدات روزانه شان را در آخرین روز هر هفته بمرجعش تحویل می دهند.

ماده۹۹:- چون جمعیت افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) تحت قیادت عالیه وحمایهٔ اعلیحضرت همایونی بوده مکلف است که در آخر هر سال گذارش وعملیات یک سالهٔ خود را بعرض حضور اعلیحضرت همایونی برساند.

ماده۱۰۰:- تغیر وتعدیل مواد این اساسنامه بر اساس پیشنهاد مجمع مرکزی ومنظوری مجمع عمومی صورت می گیرد.

ماده:۱۰۱:-به اجراء و تطبیق این اساسنامه مجمع مرکزی افغانی سره میاشت (هلال احمر افغانی) ماموروٌ مکلف است.

PROPERTY OF ACKU 9195
بنیاد اندیشه
تاسیس ۱۳۹۴